# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**6حوت _سال 1401**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

په تېرو دوو ورځوکي له درې زرو زيات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول ---------------------------------------- 1

به صدها خانواده نیازمند در هلمند توزیع کمک نقدی صورت گرفت ------------------------------------------------- 2

جوزجان کې (۲۰) کورنيو سره مرستې وشوې --------------------------------------------------------------------- 3

مساعدت صحی به صد ها خانواده در ولایات بغلان و هرات توزیع شد--------------------------------------------------- 4

هلمند کې له زرو زياتو کورنيو ته د نغدي مرستو د وېش لړۍ پيل شوه ------------------------------------------------- 4

بیش از هزار مهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمودند---------------------------------------------------------- 5

کانال مانش: سال گذشته بیش از ۸۶۰۰ مهاجر افغان با کشتی وارد بریتانیا شده‌اند------------------------------------ 6

برېتانيا: د افغانانو په ګډون د ۱۲۰۰۰ کډوالو پناه غوښتنليکونه په غيابي ډول ارزول کېږي--------------------------- 8

د آلمان داخله وزيرې د اوکرايني مهاجرو په منلو کې محدوديت رد کړ----------------------------------------------- 10

په اروپا کې د مهاجرو د ويش لپاره يو مليون لاسليکونه-------------------------------------------------------- 11

بریتانیا از مصاحبه حضوری هزاران پناهجو منصرف می شود--------------------------------------------------- 13

طالبان از بازگشت بیش از 3 هزار مهاجر به افغانستان خبر داد ---------------------------------------------------- 14

مقامات طالبان درباره علت بازگشت مهاجران افغاناظهار نظری نکرده‌اند.--------------------------------------- 15

# متن کامل اخبار

## په تېرو دوو ورځوکې له درې زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

دوزارت ویب سایت




**په تېرو دوو ورځوکې د هرات ولایت د اسلام قلعه او نیمروز ولایت د ورېښمو پل له لارې د ایران څخه ( ۳۵۴۱) تنه افغان مهاجرینو هېواد ته راستانه شول.**

**د معلوماتو له مخې د هرات ولایت د اسلام قلعه له لارې د حب په دومه (۱۷۴۸) تنه او د نیمروز ولایت د ورېښمو پل له لارې د کب په (۳) مه (۱۷۹۳) تنه هېواد ته راستانه شوي.**

**په دغو راستنېدونکوکې چې په خپله خوښه او جبري توګه راستانه شوي، (۸۶) کورنۍ هم شاملې دي، چې د غړو شمېر یې (۳۴۷) تنو ته رسي.**

**د سرچینې په خبره د یادو راستنېدونکو له ډلې (۶۳) کورنۍ د (۲۸۹) تنو مجردینو سره د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM ته ور وپېژند شول.**

## به صدها خانواده نیازمند در هلمند توزیع کمک نقدی صورت گرفت

ویب سایت وزارت



**برای 694 خانواده نیازمند و بیجاشده ولسوالی خانشین ولایت هلمند از جانب دفتر IRC کمک نقدی توزیع شد.**

**در جریان کمک یادشده که روز چهارشنبه 3 حوت صورت گرفت، به هر خانواده مبلغ 26 هزار افغانی پول نقد توزیع گردید.**

**ریاست امور مهاجرین و عودت کنندگان ولایت هلمند از جریان سروی و توزیع کمک های مذکور نظارت به عمل آورده است.**

## جوزجان کې (۲۰) کورنیو سره مرستې وشوې

دوزارت ویب سایت



**د نصرت النسان خیریه بنسټ له لورې د جوزجان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ (۲۰) کورنیو سره د کب په (۳) مه د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې وشوې.**

**یادو کورنیو هرې کورنۍ ته (۳) کیلو غوړي، (۱۰) کیلو وریجې، (۵) کیلو مکروني، (۵) کیلو بوره، بخارۍ، د سوخت مواد، جمپرونه، او د ماشومانو بوټان ووېشل شول.**

## مساعدت صحی به صد ها خانواده در ولایات بغلان و هرات توزیع شد

ویب سایت وزارت



**به اساس معلو مات واصله، برای 647 خانواده در ولسوالی دهنه غوری ولایت بغلان و برای 300 خانواده در ولایت هرات مساعدت صحی موسسه DACAR که شامل 19 قلم مواد صحی وحفظ الصحوی بود در هماهنگی با اداره های امور مهاجرین انولایات به تاریخ 2 حوت توزیع گردید.**

## هلمند کي له زرو زیاتو کورنیو ته د نغدي مرستو د وېش لړۍ پیل شوه

دوزارت ویب سایت



**د مهاجرت نړیوال سازمان ((IOM له لورې د هلمند ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکاری (۱۳۰۰) کورنیو ته کب په ( ۲) مه  د نغدي مرستو د وېش لړۍ پیل شوه.**

**یادې مرستې په بېلابېلو کټګوریوکې ( (۴۳) زره او (۲۰۰) او (۲۶) زره او (۴۰۰) افغانۍ وې، چې د کور جوړولو په موخه یادو کورنیو ته په نهر سراج، ګرشک، مارجه او ناد علي ولسوالیو کې د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ وېشل کیږي.**

## بیش از هزار مهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمودند

ویب سایت وزارت



آمریت سرحدی اسلام قلعه ریاست امورمهاجرین و عودت کننده گان ولایت هرات ازبرگشت یک هزارو888 تن مهاجرافغان ازایران، به تاریخ 2 حوت خبرداد.

منبع علاوه نمود که از میان افراد مذکور304 نفر آنها غرض اخذ مساعدت به دفتر IOM معرفی شدند.

## کانال مانش: سال گذشته بیش از ۸۶۰۰ مهاجر افغان با کشتی وارد بریتانیا شده‌اند

مهاجرنیوز




**در سال ۲۰۲۲ بیش از ۸۶۰۰ مهاجر افغان با کشتی و به گونه غیرقانونی از طریق کانال مانش وارد بریتانیا شده‌اند. این رقم نسبت به سال قبلی، شش بار افزایش یافته است .شورای پناهندگان بریتانیا می‌گوید این ارقام نشان می‌دهد که حکومت بریتانیا باید سیاست مهاجرتی خود را بازبینی و زمینه ورود قانونی پناهجویان به این کشور را فراهم کند .**

**به گزار دیلی میل، ۸۶۳۳ مهاجر افغان در سال گذشته از طریق کانال مانش وارد بریتانیا شده‌اند .سه چهارم این افراد در فاصله ماه‌های اگست و دسمبر ۲۰۲۲ با کشتی‌های کوچک و غیرمعمول از کانال مانش عبور کرده‌اند .**

**در همین زمینه :۴ تن از مهاجران غرق شده در کانال مانش افغان بودند**

**در مقایسه با ارقام سال گذشته، در سال ۲۰۲۱، ۱۴۳۷ مهاجر افغان وارد بریتانیا شده‌اند و یک سال پیشتر از آن این رقم ۴۹۴ تن بوده است .**

**بعد از سقوط کابل به دست گروه طالبان در ماه اگست ۲۰۲۱، حکومت بریتانیا اعلام کرد که حدود ۲۰ هزار تن از افغان‌هایی را که از سوی طالبان تهدید می‌شوند، خواهد پذیرفت .**

**دیلی میل از قول وزارت داخله بریتانیا گزارش داده که تا کنون حدود ۲۴۵۰۰ تن، از جمله افغان‌های بریتانیایی، کارمندان محلی ارتش بریتانیا در افغانستان و افراد آسیب پذیر را در این کشور جابجا شده‌اند .**

از این رقم بیش از ۷۱۰۰ تن از طریق برنامه اسکان مجدد شهروندان افغان (ACRS)در فاصله ماه اگست تا دسمبر ۲۰۲۱ از افغانستان تخلیه شده‌اند. در کنار آن بیش از ۱۱ هزار و ۲۰۰ تن نیز در چارچوب برنامه اسکان و کمک به همکاران محلی ارتش بریتانیا (ARAP) که در ماه اپریل ۲۰۲۱ آغاز شده بود، به این کشور رفته‌اند .

در همین زمینه :<u>انتقاد سازمان‌های حقوق بشری از روند تخلیهٔ افغان‌ها به بریتانیا</u>

همزمان با این دو برنامه، حکومت بریتانیا برنامه پذیرش افغان‌های آسیب‌پذیر از طریق کمیساریای عالی سازمان ملل متحد برای پناهندگان نیز راه‌اندازی کرده اما تا کنون از طریق این برنامه تنها ۲۲ پناهجوی افغان، از جمله ۸ کودک سال گذشته در بریتانیا پذیرفته شده‌اند .

به گفته انور سولومون، مدیر عمومی شورای پناهندگی بریتانیا «مقایسه افزایش ۶ برابری افغان‌هایی که از کانال مانش عبور می‌کنند با تنها ۲۲ تنی که در چارچوب اسکان مجدد وارد بریتانیا شده‌اند نشان میدهد که حکومت باید سیاست خود را بازبینی کند «.

این در حالیست که به گزارش رسانه‌های بریتانیایی حکومت در نظر دارد پناهندگی حدود ۱۲۰۰ پناهجو از پنج کشور از جمله افغانستان را تسریع کند. قرار است بر مبنای یک تصمیم جدید، این پناهجویان به جای مصاحبه حضوری، به یک پرسشنامه ده صفحه‌ای پاسخ بدهند .

در همین زمینه :<u>بریتانیا درخواست ۱۲هزار پناهجو از جمله افغان‌ها را بدون مصاحبه بررسی می‌کند</u>

## برېتانيا: د افغانانو په ګډون د ۱۲۰۰۰ کډوالو پناه غوښتنلیکونه په غيابي ډول ارزول کېږي

مهاجرنیوز



Website: https://morr.gov.af
Fb page: https://m.facebook.com/morr.gov




د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت یو افشا شوی سند ښیي چې د افغانستان، اریتریا، لیبیا، سوریې او یمن د ۱۲۰۰۰ کډوالو پناه غوښتنلیکونه به په غیابي ډول وڅېړل شي. د دې سند له مخې، کډوال اړ دي چې د شلو کاري ورځو په موده کې د پناه غوښتنې ۱۰ مخیزې فورمې په انګلیسي ژبه ډکې کړي.

د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت افشا شوي سند کې راغلي دي چې پر پناه غوښتنې سیستم د فشار د کمولو لپاره به د زرګونو کډوالو دوسیې په غیابي توګه وارزول شي. دغه کډوال اړ دي چې د ۲۰ کاري ورځو په موده کې د پناه غوښتنې فورمې په انګلیسي ژبه ډکې کړي او د کورنیو چارو وزارت ته یې واستوي. له ټاکلې مودې وروسته به د کډوالو غوښتنلیکونه نه منل کېږي.

ټاکل شوې ده چې د کورنیو چارو وزارت ۱۱ مخیزې فورمې د افغانستان، اریتریا، لیبیا، سوریې او یمن ۱۲۰۰۰ کډوالو ته واستول شوي. د دې پرېکړې موخه د پناه غوښتنې لړۍ چټکول بلل شوي دي ترڅو منل شوي کډوال په برېتانیا کې پاتې شي خو رد شوي مهاجر بیا له دغه هېواد څخه وایستل شي.

**د گارډین د خبر له مخې، دغو فورمو کې شاوخوا ۵۰ سختې پوښتنې شاملې دي چې باید په انګلیسي ژبه ځواب ورکړل شي. د کورنیو چارو وزارت ویلي دي چې کډوال کولی شي چې د فورمو د ډکولو لپاره د ژباړې اپلیکېشنونه وکاروي. دغه وزارت خبرداری ورکړی دی چې له ټاکلې مودې وروسته به د کډوالو پناه غوښتنلیکونه د منلو وړ نه وي .**

**په دغو فورمو کې له کډوالو څخه غوښتل شوي دي چې د انساني قاچاق او عصري غلامۍ په اړه پوښتنو ته ځواب ورکړي او ووایي چې ایا له دریم هېواد څخه بریتانیا ته راغلي دي او یا په خپل هېواد کې له تبعیضي چلند سره مخ شوي دي که نه.**

**یوه بله پوښتنه دا ده: «د هغه کس، ډلې او یا سازمان نوم واخلئ چې تاسې ترې وېرېږئ؟ دغه کس، ډله او یا سازمان ستاسو اصلي هېواد کې څومره واک او نفوذ لري؟ د بېلګې په توګه، ایا هغه په کوم شرکت او یا سیاسي ګوند کې رسمي دنده لري او یا د کوم واکمن دولت غړی دی؟ ولې فکر کوئ چې هغه به تاسو ته د زیان رسولو لپاره له خپل مقام او منصب څخه ګټه واخلي؟«**

**دا هم ولولئ :<u>بریتانیا کې د کډوالو ضد لاریون: ۱۵ تنه د تاوتریخوالي په تور نیول شوي</u>**

**»غیر منطقي» پرېکړه**

**په ورته مهال د کډوالو د حقونو مدافع بنسټونو د حکومت پر دغې پرېکړې نیوکه کړې او ویلي یې دي چې که څه هم د کډوالو دوسیې باید په چټکۍ سره وارزول شي، خو دا تصمیم د خلکو ژوند په خطر کې اچولی شي. د بریتانیا د کډوالو شورا مشر انور سلومون ویلي چې «دا هېڅ منطقي او مناسب نه ښکاري چې له هغو کسانو څخه چې انګلیسي یې نه ده زده او حقوقي مشورو ته لاسرسی نه لري تمه وکړو چې په شلو ورځو کې اوږدې فورمې ډکې کړي.«**

**تر دې دمخه د بریتانیا د کډوالو شورا او د سره صلیب کمیټې له حکومت څخه غوښتې وو چې د هغو کډوالو د پناه غوښتنلیکونو د ارزولو لړۍ دې چټکه کړي چې بریتانیا کې یې د منل کېدو چانس یې ډېر دی. دوی تېر کال د افغانستان، اریتریا، سوریې، سوډان او ایران د ۴۰ زره پناه غوښتونکو دوسیې له حکومت سره شریکې کړې وې.**

**د رسمي شمېرو له مخې په بریتانیا کې تر ۱۵۰ زره ډېر پناه غوښتنلیکونه بې ځواب پاتې دي. د بریتانیا لومړي وزیر ریشي سونک تېره دېسمبر میاشت ویلي وو چې په پام کې لري د هغو کډوالو شمېر نیم په نیمه کم کړي چې له ۶ میاشتو راهیسې د خپلو پناه غوښتنلیکونو ځواب ته انتظار باسي .**

## د آلمان داخله وزیرې د اوکرایني مهاجرو په منلو کې محدودیت رد کړ

مهاجرنیوز

د آلمان داخله وزیرې نېنسي فېزر هغه غوښتنې او ورانديزونه ردکړي دي چې د اوکرایني مهاجرو د منلو په ترڅ کي د حد اکثر وګړو یا مصارفو په تړاو وې.

نېنسي فېزر ویلي دي چې په «اروپا کي جګړه ده، او څوک د حدودو خبره نشي کولای.» د آلمان د کورنیو چارو دغې وزیرې په دې توګه سره هغه وړاندیزونه رد کړي دي چې د اوکرایني مهاجرو د منل کېدلو په ترڅ کي د حد ټاکلو په تړاو وې. فېزر په اروپا کي له یو «اضطراري حالت» څخه خبره کړې ده. نوموړې دا څرګندونې په آلماني تلویزیوني چېنلونو آر تي اېل او اېن تي وي کې خپره شوې مرکه کې کړې دي. هغې وویل چې د دې هم هیڅ سوال نه پیدا کیږي چې د اوکرایني مهاجرو په برخه کې دي د مصارفو سپما وشي .هغې زیاته کړه چې داسي مصارف شته چې وربانديې څوک هیڅ بحث نشي کولای.

د فېزر په وینا دا اټکل کوي چې مصارف به لا زیات شي. د هغې په وینا دا ورته د حقایقو سره سم چلن نه برېښي که څوک په ۲۰۲۳ کال د ۲۰۲۲ کال په پرتله د مهاجرو او پناه غوښتونکو لږاره کمتره مصارف وکړي.

فېزر په خپلو تازه څرګندونو سره هغه بیرې رد کړې چې د تقریبا یو ملیون اوکرایني مهاجرو په راتګ سره په آلمان کي د اپارتمانونو د کمښت د ستونزې د لا جدي کېدلو سره مربوطي دي. د فیره په وینا تقریبا ۷۰ فیصده اوکرایني مهاجر په «شخصي توګه ځای پر ځای شوي دي.» هغې زیاته کړه چې په آلمان کې د اوسېدو د ځای د کمښت ستونزه د مهاجرو د بحران تر مخه هم موجوده وه. هغې وویل چې په بانفوسو او لویو ښارونو کې د کرایو زیاتېدنه د مهاجرو د سرپناوو سره هیڅ ارتباط نه لري .

فیزر پر دې تنقید وکړ چې د آلمان ښارونو د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ د مهاجرو د بحران وروسته د سرپناوو امکانات بېرته راکم کړل. د هغې په وینا اوس دمګړی «د همدغو سرپناوو کمښت دی» چې دا یوه لویه ستونزه ده.» د کورنیو چارو وزیره وویل چې د ټولو ستونزو باوجوده اوس هم اکثره ښارونه په دې توانېدلي دي چې مهاجر ځای پر ځای کړي، بېله دې چې د سپورټ له لوبغالو یا ورته ځایونو څخه کار اخیستلو ته مجبور شي.

## په اروپا کي د مهاجرو د ویش لپاره یو ملیون لاسلیکونه

مهاجرنیوز



اروپايي وګړي کولای شي چې په ټوله اروپايي اتحاديه کې د پناه غوښتونکو د ويش د نظام په حق کې د مبارزې ملاتړ وکړي. دا په دې توګه چې پر اړونده غوښتنو لاسليک وکړي .

د اروپايي اتحاديې کميسيون په بروکسل کې د چهارشنبې په ورځ (د ۲۰۲۳ کال د فبرورۍ ۲۲ نېټه) د ولسي خلکو يوه ابتکاري ډله په رسميت ومنله. دغه فعاله ډله د «په اروپا کې د مهاجرو د بشري پناه منلو» غوښتنه کوي او همدغه يې نوم دی. د ولسي خلکو ابتکاري ډله په اروپا کې داسي جوړښت ته وايي چې د يو ځانګړي مرام او يا سياسي غوښتنې په مقصد د معين وخت لپاره سره راټوليږي او د خپلو غوښتنو لپاره فعاليت کوي .دغه غوښتنې عموما و دولتونو او چارواکو ته راجع وي. دغې ډلې په خپل فعاليت سره د خپلو غوښتنو د پوره کېدلو لپاره پر دولتونو فشار راولي.

په بروکسل کې د منل شوي يادي ډلې غوښتنه دا ده چې په اروپايي اتحاديه کې بايد د دبلن رايج اصول تعديل شي او د پناه غوښتونکو د ويشلو يو نوی نظام رامنځته کړل شي. د دبلن د اصولو له مخې عموما د اروپايي اتحاديې هغه هيواد د پناه غوښتنې د دوسيې د پروسه کولو مسؤليت لري، چې له لاري يې پناه غوښتونکی اروپايي اتحاديې ته داخل شوی وي .

ياده ډله د دې غوښتنه کوي چې د مهاجرو د منلو لپاره د انسان وړ شرايطو په ترڅ کې معياري او د ټولو غړو هيوادونو لپاره مکلف کوونکي اصول رامنځه کړل شي .

دغه ډله شپږ میاشتې وخت لري چې په حد اقل ۷ اروپايي هیوادونو کې له حد اقل یو ملیون وګړو څخه د دغې ډلې د غوښتنو په ملاتړ لاسلیکونه راټول کړي. که دغه ډله په یاد شمېر لاسلیکونه راټول کړلای شي نو به د اروپايي اتحادیې کمیسیون مکلف وي چې پر غوښتنو یې غور وکړي او بیا یې په هکله فیصله وکړي.

د یادولو وړ ده چې د اروپايي اتحادیې کمیسیون د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر په میاشت کې لا د پناه غوښتنې د نظام د اساسي تعدیل وړاندیز کړی و. خو دغه کمیسیون د دبلن پر اصولو بیا هم ټینګار کوي او دغه اصول ساتل غواړي. په وړاندیز کې د نورو تر څنګ د دې غوښتنه شوې وه چې د اروپايي اتحادیې غړي هیوادونه په رضاکارانه توګه یو د بل سره د مهاجرو په منلو کې مرسته کولای شي. که یو غړی هیواد په لوړه اندازه د مهاجرو د زیات شمېر له کبله تر فشار لاندې راځي نو به مکلف کوونکی د پېوستون او مرستې میکانیزم فعال کیږي. خو د دغو وړاندیزونو په تړاو لا تر اوسه د غړو هیوادونو تر منځ تفاهم نه دی رامنځته شوی.

## بریتانیا از مصاحبه حضوری هزاران پناهجو منصرف می شود

دویچه وله




بریتانیا درنظر دارد برای رسیدگی سریع تر به درخواست های پناهندگی، از مصاحبه حضوری ۱۲ هزار پناهجو منصرف شود. قرار است این روند تنها با پرسشنامه ها به پیش برده شود.

رسانه های بریتانیایی روز پنجشنبه، به تأسی از یک سند حکومت، گزارش دادند که هزاران متقاضی پناهندگی در آینده به یک مصاحبه حضوری دعوت نشده و در عوض یک پرسشنامه کوتاه دریافت خواهند کرد. گفته شده است که این پرسشنامه ها به متقاضیان پناهندگی از کشور های افغانستان، اریتریا، لیبیا و سوریه ارسال می گردد.

وزارت داخله بریتانیا گفته است که اگر پناهجویان این پرسشنامه ها را پاسخ ندهند، وادار خواهند شد که تقاضای پناهندگی خود را پس بگیرند.

بر اساس گزارش روزنامه گاردین، این پرسشنامه شامل ۵۰ سوال است که باید به زبان انگلیسی به آنها پاسخ داده شود. پناهجویان مدت ۲۰ روز کاری فرصت دارند این پرسشنامه ها را تکمیل و دوباره به مقامات بفرستند.

در سال گذشته میلادی رقم افرادی که منتظر یک تصمیم مقامات بریتانیا در مورد درخواست پناهندگی شان بودند، به بیشتر از ۱۶۰ هزار نفر می رسید. به تاریخ ۳۱ دسمبر ۲۰۲۲ جمعاً ۱۶۰ هزار و ۹۱۹ متقاضی پناهندگی در بریتانیا ثبت گردیده بودند که از آن جمله اکثریت بزرگی، یعنی ۱۰۹ هزار و ۶۴۱ متقاضی بیشتر از شش ماه منتظر تصمیم نهایی مقامات بودند.

مرتبط:رکورد جدید ورود مهاجران به بریتانیا از طریق کانال مانش

به اساس گزارش ها، میزان قبولی پناهجویان از کشور های افغانستان، اریتریا، لیبیا و سوریه در بریتانیا بیشتر از ۹۰ درصد بوده است.

در سال گذشته میلادی بیشتر از ۴۵ هزار مهاجر از کشور های اروپایی از طریق کانال مانش وارد خاک بریتانیا شده اند، که ۱۷ هزار نفر بیشتر از سال ۲۰۲۱ بوده است.

ریشی سوناک، نخست وزیر بریتانیا وعده داده است که عقب ماندگی در رسیدگی به درخواست های پناهندگی را رفع می کند و همزمان «قایق های (مهاجران غیرقانونی)را متوقف می سازد.«

## طالبان از بازگشت بیش از 3 هزار مهاجر به افغانستان خبر داد

صدی ترکیه

**مقامات طالبان درباره علت بازگشت مهاجران افغاناظهار نظری نکرده‌اند.**




**وزارت امور مهاجران و عودت‌کنندگان دولت موقت طالبان روز پنجشنبه 23 فوریه با صدور اطلاعیه‌ای اعلام کرد که طی دو روز گذشته 3 هزار و 541 مهاجر از ایران به افغانستان بازگشته‌اند.**

**بر اساس این اطلاعیه، بسیاری از افرادی که به افغانستان بازگشته‌اند، برای دریافت کمک به دفتر سازمان بین‌المللی مهاجرت در ولایت نیمروز و هرات معرفی شده‌اند.**

**مقامات طالبان درباره اینکه بازگشت مهاجران افغان داوطلبانه بوده یا اخراج شده‌اند، اظهار نظری نکرده‌اند.**

**مهاجرانی که وارد افغانستان می‌شوند، توسط نهادهای بین‌المللی به‌ویژه کمیساریای عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان و سازمان بین‌المللی مهاجرت کمک‌های نقدی دریافت می‌کنند.**

**گفتنی است پس از تسلط طالبان بر افغانستان صدها هزار شهروند به‌ویژه جوانان به کشورهای همسایه به ویژه ایران و پاکستان مهاجرت کردند.**